Victorian Fisheries AUTHORITY

# د لویو ډبرو لرونکو ځایونو کې د کب نیولو پر مهال خوندي اوسئ –

# Jump Rocks

## ځنګه کولو شو له لویو ډبرو څخه خوندي کب نیونه وکړو

د لویو ډبرو لرونکو ساحو څخه کبان نیول او راټولول د کب نیولو او د بهر ساحو څخه د خوند اخیستلو عالي لارې دي مګر خطرناکه کیدی هم شي.

له لویو ډبرو څخه د کب نیولو یا راټولولو پرمهال د خوندي پاتې کیدو لپاره 4 ساده لارې شتون لري:

1. له تلو څخه دمخه چمتووالی ونیسئ
2. رسیدو سره سم ساحه وګورئ
3. د کب نیولو پرمهال محتاط اوسئ او
4. تل ژغورونکی جاکټ واغوندئ.

## څه باید وکړل شي که یو څوک اوبو کې لاهو شي

که چیرې یو څوک په بحر کې لاهو شي پدې پوهیدل مهم دي چې په داسې وخت کې څه باید وکړل شي.


1. مه وارخطا کیږئ - ارامه اوسئ او په لامبو کولو سره له لویو ډبرو څخه لرې لاړ شئ.
2. که یو څوک په اوبو کې لاهو شي نو اوبو ته ټوپ مه وروهئ، په ځای یې،
3. هغه کس ته یو پړی یا یو داسې څه چې په اوبو کې نه ډوبیږي، د یو ژغورونکی جاکټ په شمول که شتون ولري، ور وغورځوئ بیا،
4. د خپل ګرځنده تلیفون څخه 000 یا 112 ته زنګ ووهئ یا د مرستې په موخه د نورو خلکو موندلو لپاره لاړ شئ.

## د ډوبیدو لوړ خطر لرونکې ساحې؟

ډیری خلکو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی ځکه چې دوی په ویکټوریا کې د لویو ډبرو لرونکو ساحو څخه د کب نیولو یا راټولولو پرمهال په اوبو کې غورځیدلي دي.

د کب نیولو پر مهال د لا نورو مړینو مخنیوي لپاره، هر هغه څوک چې د لوړ-خطر لاندې ټاکل شوو ساحو کې کبان نیسي یا ورڅخه یې راټولوي، **باید** یو ژغورونکی جاکټ واغوندي.

### Jump Rocks, near Lorne




په هر صورت، که تاسو په کوم لویو ډبرو لرونکي ساحه کې یاست، نو که تاسو کبان هم نه نیسئ، VFA تاسو هڅوي چې یو ژغورونکی جاکټ واغوندئ.

## نور معلومات

د لوړ خطر ساحو او په لویو ډبرو لرونکو ساحو کې د کبانو نیولو پرمهال خوندي پاتې کیدو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، په ژبو کې د معلوماتو په شمول، مهرباني وکړئ د VFA له ویب پاڼې څخه په:
vfa.vic.gov.au/rockfishing
لیدنه وکړئ یا ښي لور ته QR کوډ سکین کړئ.

VICTORIA State Government

We're hooked on SAFETY

Victorian Fisheries AUTHORITY

# په لويو ډېرو لرونکو ځايونو کې د کب نيولو پر مهال خوندي اوسئ

## زه کوم ډول لايف جاکټ ته اړتيا لرم؟

ستاسو لايف جاکټ بايد د آسټراليايي معيار (AS 4758) سره مطابقت ولري او بايد وي:

- د 50S په کچه/اندازه يا ورڅخه لوی لايف جاکټ
- ستاسو په سمه اندازه
- په ښه توګه کارکونکی وي. ډاډ ترلاسه کړئ چې د تړلو کلپونه يې کار کوي او پټی يې خوړل شوي نه وي.
- په سمه توګه اغوستل شوی وي چې ټول زپونه، د تړلو کلپونه او پټی يې په سمه توګه خوندي شوي وي
- په منظمه توګه سروس شوی.

هغه لايف جاکټونه چې يوازې د پرسيدلو خوله لرلو باندې تکيه کوي نشي کارول کيدی.

## ايا ماشومان لايف جاکټ ته اړتيا لري؟

هو، ستاسو تر څارنې لاندې هر ماشوم بايد لايف جاکټ واغوندي حتی که دوی کبان هم نه نيسي.

د ماشومانو لايف جاکټونه بايد:

- د آسټراليايي معيار سره مطابقت (AS 4758) ولري او
- د 100 کچې لايف جاکټ يا ورڅخه لوی وي.

## د ځوانانو لپاره مناسب لايف جاکټونه

| | |
|---|---|
| 100 کچه<br>(1 ډول) |  |
| 50 کچه<br>(2 ډول) |  |
| 50S کچه<br>(3 ډول) |  |

## د ماشومانو لپاره مناسب لايف جاکټونه

100 کچه (1 ډول يا لوی)





VICTORIA State Government

We're hooked on SAFETY